# په پښتو شاعرۍ د وخت د اکرو اثرات

## *Effects of occurences on Pashto Poetry*

Issn 2304-1463

Rasool Khan* talhakhanswat1111@gmail.com
Dr. Shakeel Ahmad** shakeeluop@gmail.com

**Abstract:**

Pashto Literature reflects the social, Cultural and historical context of Pashto Society. Occurrences like social change, conflict and war have considerably influenced Pashto Literature, determining its topics, thematic part, stylistic approach, figurative techniques, and social impact. Pashto literature donates to a sagacity of national uniqueness and gratification among Pashtuns. History is generated and originated from the happenings around the world. Various aspects influences history such as subjectivity, partiality, missing arguments whereas in literature other benefits except aesthetic scenes, facts and feelings are often ignored, which are more acceptable among people. Pashto literature in its beginning showing us bravery, courage, satisfaction in battles which represent ancient society. Coming a step ahead, these characteristics of Pashto literature are replaced with Suffiazm, divine love, religious quest, and adoration of nature, hostility, leadership, sectarianism, nationalism, freedom of speech, patriotism, and extremism. This research paper will focus how Pashto literature and its verities of themes converted and stored? How Pashto writers reflect and respond to the occurrences happening around them?

**Keywords:**

*stylistics, gratification, Figurative, extremism, aesthetic, sufiazm, Nationalism, Divine, adoration, literature.*

ادب بې شکه د خپل وخت د حالاتو، اکرو انځورګر وي. دغه انځورګري په دې حساب ډېره زیاته د باور وړ ده چې تاریخ پرې لیکلے کېږي نو جانب داره لیکلے کېږي. تاریخ په دلائلو او ثبوتونو اډانه لري. ولې ډېر دلائل د لیکوال په لاس را نۀ شي یا د خپل مزاج سره سم په هغې کښې د ردوبدل هڅه کوي. ادب د ژوند یوه داسې برخه ده چې په دې کښې نور مفادات بیخي نۀ وي یواځې جذبات او احساسات وي. هاغه داخلي کېفیات وي چې بیخي په رښتیاو ولاړ وي. څه چې شاعراو ادیب وائي د خپلې زمانې او ټولنې په حقله هغه ډېر زیات باوري وي. د دې له کبله په ننني دور کښې چې زمونږ کوم اکر، خدوخال، ستونزې کشالې راپېښې دي او کومه بده ورځ ده، په ځاے د دې چې مونږ یې په نورو کتابونو کښې اوګورو نو غوره داده چې مونږ یې د ادب په کتابونو کښې ولټوو.

---

* PhD Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

** Lecturer, Department of Pashto, University of Peshawar

د پښتو د ورمبي دور د موندلو شوو نخښو نه دا خبره جوته ده چې دغه دور د مړانې، قام پالنې، قام پرستۍ،په وطن د ځان شيندنې، جمالياتي ذوق او په يو بل د چپاوونو دور وو. د امير کروړ د نظم نه د مزاحمت او مړانې اثار څرګندېږي لکه:

"زۀ يم زمرے پر دې نړۍ له ما اتل نيسته
په هند و سيند و پر تخار او پر کابل نيسته

بل په ذابل نيسته
له ما اتل نيسته" [1]

د بابا هوتک په نظم کښې هم د قومي شعور، قاميت او وطن سره د مينې،د پښتنو يو ټاټوبي د لاندې د راټولېدلو او مړانې جذبې په ډېر شدت سره محسوسېږي لکه:

"پر سور غر بل راته نن اور دے
وګړيه جوړ راته پېغور دے
پر کلي کور باندې مغل راغے
هم په غزني هم په کابل راغے"[2]

بايزيد انصاري د تصوف په پلويانو کښې يو ځانګړے نوم دے. هغه د وخت د استعماري قوتونو سره په توره او قلم مزاحمت او مقابلې کړي دي. دا دور د پښتو د ودې زرين دور ؤ چې خلق يې ادب ته راوپارول، پښتانۀ يې د خپل کتاب خاوندان کړل، خلق يې د تصوف د بنيادي خبرو سره مخامخ کړل او د تصوف اتۀ منزلونه يې په ګوته کړل. د بايزيد د ادب خبزه جذباتو اندازه د دې خبرو نه په ډاګه لګېدلے شي چې خيرالبيان په څلورو ژبو کښې لېکلے شوے دے او د دې له کبله

مخزن الاسلام هم په وجود کښې راغے. بایذید هر مسلمان له د ټولو نه اول شریعت لازمي کړے دے. چې ددې د حکمونو نه خبر شي. اول يې په نېغه لاره روانوي او بیا ورته د تصوف لارې ښائي:

"مــرګ بــه راشـــي وســـړي تــه نــاګــهــانــه
پـه دنـیـا کښــې نـیشـــتـه د ســـړي تـر تـلـه مـقـام" [3]

خوشحال چې په پښتو ادب کښې یو ځانګړے حېثیت لري. د تورې او قلم خاوند د قام پرسته او قام پاله تحریک یو لوے مبارز مخ په وړاندې راځي. پښتو ادب او قامولۍ ته يې داسې نادرې نمونې راوړې دي چې خلق ورته ګوته په خولۀ دي. په دې دور کښې چې کوم سترې او ستونزې اولس تۀ راپه ډاګه وې هغه پرې په خلاص متې قلم پورته کړے دے. بابا په اول ځل د پښتون "نېشنلزم" تصور وړاندې کړو. د وخت د جابر حکمران چا چې به پښتنو ته پۀ ښه نظر نۀ کتل د هغو خلاف يې يو اواز پورته کړے دے. د خپل سیاسي شعور په برکت د مغلو د ناروا شهنشاهیت چې د مسلمان بادشاه په جامه کښې د ناترسه نظام چلونکي وو د هغو خلاف داسې وائي:

"اطــاعــت د اولـــو الامـــر ځـــکـــه نـــۀ کـــړم
چـــې بـــادشـــــاه د زمـــانـــې پـــه زړۀ کـــافـــر دے" [4]

د تصوف لاروے رحمان بابا چې په اولس کښې د ټولو نه زیات مقبول او مشهور شاعر دے. د خوږې او پستې ژبې له کبله د هغه شعرونه ښځو او سړو، لويو او وړو ته په يادو ياد دي. ډېر عالمان او پوهان د هغه شعرونه په خپلو خطبو او وعظونو کښې هم را نقل کوي. شعرونه يې د پند او نصیحت ملغلرې دي. تاریخ خو دا وائي چې اورنګزیب ډېر عادل بادشاه ؤ خو شاعر او ادیب تۀ د هغه تور اړخونه هم په ډاګه وو چې اولس ته يې راڅرګند کړه. په تحقیق سره په هغه وخت کښې اورنګزیب او د هغۀ ځوے شاه عالم باچاهان وو چې دومره بد نۀ ګڼلے کېده ولې د دوي د اهلکارو

او د پالېسو له وجې چې کوم اړے ګړے هغه محسوس کړے دے او اولس ته يې راپه ډاګه کړے دے هغه داسې دے:

"په سبب د ظالمانو حاکمانو
ګور اور و پښور درې واړه يو دي" [5]

په پښتو ادب کښې د سخن سازۍ او موشګافۍ پېژندلے نوم عبدالحميد بابا چې د پښتو غزل يې د فارسۍ د غزل خوانانو سره په يو صف کښې ودرولے دے. داسې نادر او نااشنا تشبيهات يې پښتو ژبې ته سپارلي دي چې د وېنا او بيا بيا د ښېړنې او لټونې سره نوے نوے اثر راټوکوي:

"فارسيانو د حېرت ګوتې په غاښ کړې
چې حميد سخن سازي کړه په پښتو کښې" [6]

حمزه بابا چې په پښتو شاعرۍ کښې د يو پل کار لوبوي. هغه د نوي شاعرۍ غزل د پښتو د کلاسيکي غزل سره يو ځاے کړے دے. د وحدت الوجود د نظرئې قائله غزل او نظم ئې خالص د پښتو په چوکاټ کښې داسې ځاے کړے دے چې ثاني نۀ لري. د هغۀ شاعري د پښتون او پښتون ولۍ د رواياتو رسمونو رواجونو ، دودونو سره سمه ده لکه:

"حمزه سفر که د حجاز وي نو هم
زۀ د پښتون د قافلو سره ځم" [7]

دغه شان د خدائي خدمتګارو ادبياتو په کتنه پته لګي چې انګرېز دلته څومره ظلمونه کړي دي. دا د تاريخ په نورو کتابونو کښې دومره په سپينو ټکو کښې په لاس نۀ راځي. باچا خان چې دلته د امن، څوکالۍ، اهنسا ، خپل واکۍ او قوم ولۍ کومه کرونده وکړه د هغې مېوه د دغه دور

په شاعرۍ کښې را په ډاګه شوه. د خدائي خدمتګار په غړو او عام اولس پرته د ظلم تيارو په اديب او شاعر کښې خشمېدلي جذبات را پار کړل. هغه د ملت او قام پالې، د قومي بېدارۍ داسې کوټلي فن پارې مېدان ته راوړاندې کړي چې تل تر تله يې خلق بيانوي:

"چې خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړ ؤم راځئ توکئ پرې لاړې
چې ټوټې ټوټې مې فوځ د فرنګ نۀ کا
په ما مه پليتوئ د جومات غاړې" 8

د پاڅون يو لوے غړے اجمل خټک چې د وخت د جابر بديسيانو له کبله خپل ژوبل شوي احساسات، په زړۀ کښې لګېدلے اور، د بې انصافه نظام، ټولنېز اړي ګړي او طبقاتي تقسيم بر خلاف په ډاګه غږ پورته کوي. دا کار د وړې سينې نۀ دے. داسې حالات چې شاعر وزوروي او په دې يې مجبوره کړي چې د خپل زړۀ بړاس را پورته کړي او د شعر رنګ ورله ورکړي لکه:

"ستا په رضا زما رضا ده ربه
کانړے هم نس پورې تړلے شمه
چې بل خامار په خزانو اووينم
اخر انسان يم خنګه غلے شمه"9

د پښتو د قامي ژوند نه راوتے او په قامي ژوند کښې ننوتے شاعر سائل صېب چې په شعر کښې يې د قامي وجود زخمونه او زحمتونه پرق کوي. د خپلې ژورې مشاهدې او مطالعې له کبله د هغۀ نظمونه د پښتون اولس د زړۀ اواز را پورته کوي. په خپله خاوره او پښتون هر وخت درد بېدلے او غربيدلے شاعر دے:

"ستا وینه اخر څه وائي یزید به چا ته وایو
پښتونه که په مفتو کښې شهید د کربلا شوې"[10]

د پښتون سیمه همېشه د بدامنۍ او تاؤ تریخوالي ښکار وي. په دې ار کښې د سوات سیمه هم په کال ۲۰۰۷ کښې د دغه بد امنۍ د سېوري لاندې راغله. دلته د طالب او فوځ ترمېنځه اپرېشن وشو چې پکښې د سوات خلق د خپلو کورونو نه په کډه کولو مجبوره شول. خپله خوره خاوره او خپل خپلوان یې په داسې حال کښې پرېښودل چې د قیامت یو منظر ورکوي. شاعر د دغه حالاتو عکاسي په دې ټکو کړې ده:

"دا چې ترې لارې ورکې شوي دي دي د کوره زغلي
دا د کورونو خاوندان چرته د کوره زغلي
په هر ملا پسې مې مونځ کول اوس زړۀ نه غواړي
زما پر هر د بعضې خلقو له ټکوره زغلي
بارودو سم لکه قیامت مو اودرولے په سر
مور د بچو نه او بچي له خپله موره زغلي
په بهانه ئې د اسلام په سوات یلغار راوستے
داسې زور ورک شۀ چې سړے د بل له زوره زغلي
د هغه وخت زلمي به هم لکه زمونږ غونډې وو
ملاله څکه د مېوند په لور سرتوره زغلي"[11]

د خرابو حالاتو له وجې خپله خاوره او کور پرېخودل بیا یو داسې اړخ تۀ کوچ او تګ کول چې د هغې چا ته هېڅ پوهه نۀ وي یو ستغ عمل وي. یو نوې ماحول کښې ژوند کول چرته چې خپل خپلوان او خوږمند خلق نۀ وي د یو عذاب نۀ کم نۀ دے. په داسې حال کښې

يوه مور چې ويرېدلې او تر هېدلې وي د خپل ځان پرواه نهٔ کوي خو د خپلو بچو د غم نهٔ بې پرواه نهٔ وي لکه:

"دا چــې رازغــلــي او پــه مــنــډه ده
د لــوپــټــې پــيــڅــکــے يــې کــلــک نــيــولــے
پــه دې يــربــېــږي چــې ســـرتــوره نــهٔ شــم
پــه پښــو پــېــزار نــهٔ لــري، ښــپــې ابــلــه پښــې ده
اوتــر اوتــر چــې ايســـتــه بــيســـتــه ګــوري
دا چــې ئــې تــرخ کښــې خــپــل بــچــے نــيــولــے
دا يربــدلــې ترهــيــدلــې پــه نــا اشـــنــا خلقو کښـــې
دا وړانــدې وروســـتو اخوا دېخوا چې نظر زغلوي
نــاڅــاپــه چــغــه کــړي! بــچــي مــې څــهٔ شـــو؟
زمــا ګــلانــه څــهٔ شـــوه؟ او عــبــدالله چــرتــه دے؟
پــه ګنــه ګــوڼــه کښـــې تــاو ېږي خــپــل بچي لټوي" [12]

ادب د ژوند د هر اړخ ترجماني کوي. د چاپېريال پېښې په ادب ډېر ژور اثر کوي کوم چې د تاريخ برخه جوړه شي. د وخت پېښې او ادب د يو بل سره تړلي شوي وي. د امن او خوشالۍ په دوره کښې موضوعات ټول د مينې، ګل او بلبل وي، اديب خلق ژوند او په هر ډګر پرمختګ کولو ته رابلي او د نورو قومونو سره يې په يو صف کښې ودروي خو چې کله امن، انصاف، خوشالي، احساس، يووالے، قام پرستي، پښتون ولي او د سيالۍ کولو جذبه ختمه شي بيا موضوعات دغه رنګ واخلي. لنډه دا وئيلے شو چې د هر وخت د اکرو په ادب خپل ژور اثرات وي.

## حوالې:

[1]. محمد هوتک بن داود ، "پټه خزانه"، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۲۳ ش، مخ ۳۵

[2]. هېواد مل زلمے په زيار، "پټه خزانه"، د ادبياتو او بشري علومو پوهنځې، څلورم ځل، ۱۳۵۶،مخ ۲۴

[3]. ختټک، راج ولي شاه ، "د پښتو ادبي تحريکونه"، فاسټ ټريک کميونيکېشن، پېښور، دوېم ځل، ۲۰۱۸ ، مخ ۹۹

[4]. رسا، سيد رسول، "ارمغان خوشحال"، ماسټر پرېس محله جنګي پېښور، دوېم ځل، ۲۰۰۱، مخ ۴۱

[5]. بېنوا، عبدالرؤف، مصحح مدون، "د رحمان بابا ديوان"، پ ن، ۱۹۳۷ء، مخ ۱۲۵

[6]. ختټک،راج ولي شاه ، "د پښتو ادبي تحريکونه"، فاسټ ټر يک کميونيکېشن، پېښور، دوېم ځل، ۲۰۱۸ ، مخ ۲۹۴

[7]. صميم، محمد اصف، "د حمزه شينواري کليات"، دار الترجمه و کمپوزنګ سنټر، غني پلازه محله جنګي پېښور، ۲۰۱۰، مخ ۱۴۰

[8]. اولسيار، عثمان، ډاکټر، "د پښتو ټپې سياسي اړخونه"، ګران خپرندويه ټولنه، مينګوره، ۲۰۲۴، مخ ۳۲۰.

[9]. ختټک، اجمل، "د غېرت چغه"، ماسټر پرنټرز پشاور، س ن، مخ ۴۹

[10]. سائل،رحمت شاه، "دړ چې د څرېکو څانګې اوسپړلے"، پريس ن م، ۲۰۰۴، مخ ۱۲۴

[11]. بريالے، حکيم الله ، "جنګ يې د ګودر غېږې له وړے دے"،پريس ن م، ۲۰۱۷، مخ ۲۵

[12]. قادر، ثمينه ، "سپېځلې جذبې"، دي فرنټ مين پرنټرز اينډ پبلشرز، پېښور، ۲۰۱۶، مخ ۸۲.

## References in Roman


1. Muhammad Hotak Bin Dawood, Pata Khazana, Pukhtoo Tolana, Kabal, 1323, Makh 35
2. Hewad Mal, Zalmi pa Ziyar, Pata Khazana, Da adbiyato aw Bashri Uloomo Pohanzay, Salooram Zal, 1356, Makh 25
3. Khatak, Shah, Rajwali, Da Pukhto Adabi Tehrekona, Fast Track Communication, Pekhawar, Dwayam Zal, 2018, Makh 99
4. Rasa, Said Rasool, Armaghani Khushal, Master Press Muhallah Jangi, Pekhawar, Dwayam Zal, 2001, Makh 41
5. Benawa, Abdur Rauf, Musahah wa Mudawan, Da Rahman Baba Dewan, pi nun, 1937, Makh 125
6. Khatak, Shah, Rajwali, Da Pukhto Adabi Tehrekona, Fast Track Communication, Pekhawar, Dwayam Zal, 2018, Makh 294
7. Sameem, Muhammad Asif, Da Hamza Shinwari Kulyat, Darul Tarjuma wa Composing Center, Ghani Plaza, Muhallah Jangi, Pekhawar, 2010, Makh 140
8. Ulasyar, Usman, Doctor, Da Pukhto Tappi Siyasi Arakhona, Gran Khparwandoya Tolana, Mingora, 2024, Makh 320
9. Khatak, Ajmal, Da Ghairat Chaga, Master Printers Peshawar, Seen Nuun, Makh 49
10. Sail, Rahmat Shah, Dar Che da Sreeko Sangi ospardali, Press namaloom, 2004, Makh 124
11. Baryalay, Hakeem Ullah, Jang ye da godar Gheegi la waray day, Press Na Maloom, 2017, Makh 25
12. Qadar, Sameena, Spezali Jazbi, Di Print Man Printers and Publishers, Pekhawar, 2016, Makh 82